کوهاټ: د ترهګرۍ لوی پلان ناکام کړي شوي په زیاته اندازه وسلې او مهمات نیول شوي

کوهاټ; پولیسو په یوه ښکاره چیک پوسټ کې د عملیاتو په واسطه د تخریب یو لوی پلان شنډ کړي۔ په زیاته اندازه سپکې او درنې وسلې او مهمات په غنیمت ونیول شول۔

د تفصیلاتو ترمخه د اورکزئي نه دره آدم خیل ته په یو حکومتي پک اپ ګاډي کښې د وسلو او بارودي موادو لویه خیمه قاچاق ته ناکام کړي شوې ده۔ پولیسو د استخباراتي معلوماتو په اساس چاپه واچوله او په لویه شمېره کې راکټ لانچر، د الوتکې ضد ټوپک، د راکټ مرمۍ، لاسي بمونه، ایس ایم جیز او په زرګونو کارتوس ترلاسه کړل۔ د لیوي سپیشل فورس څلور افسران د وسلو په قاچاق کې ککړ دي۔

په قبائیلي ضلعو او قبائیلي سیمو کې د ترهګرو، مجرمانو عناصرو او سهولتکارانو په ضد سختې هڅې روانې دي۔ امنیتي ارګانونه د خلکو په همکارۍ د اغیزمنو عملیاتو له لارې د منظمو ترهګرو هڅې شنډوي۔